نيټه۲۱ سپتمبر ۲۰۱۰

UNAMA
د ملګرو ملتونو د مرستو د پلاوي دفتر د افغانستان لپاره
د استراتيژيکو اړيکو او وياند دفتر، کابل، افغانستان
http://unama.unmissions.org
مطبوعاتي بيانيه

## د افغانستان دپاره د ملګرو ملتونو د عمومي منشي د ځانګړی استازي ستافان دی ميستورا بيانيه

## د ټولټاکنو د پروسی د راتلونکی پړاو په اکله

**کابل، د سپتمبر ۲۱، ۲۰۱۰-** موږ د افغانستان د ټولټاکنو د خپلواک کميسيون چې د پروفيسور فضل احمد معنوی ترمشرتابه لاندې کار کوي د هغو لاس ته راوړنو ستاينه کوو چې د ټاکنو د مهال ويش سره سم يې د ۲۰۱۰ د سپتمبر په ۱۸ د ولسې جرګې لپاره ټاکنې ترسره کړې. د ټاکنو خپلواک کميسيون د ټاکنو د تنظيم په برخه کې د پام وړ ښه والی څرګند کړ. موږ دا منو چې دغه لاس ته راوړنې د زياتو امنيتی او لوژيستکي ننګونو باوجود تر لاسه شوې دي.

د ټاکنو خپلواک کميسيون د رايې اچونې د ورځې ترمخه د پام وړ ځواکمنتيا او قاطعيت څرګند کړ. له ټاکنو څخه را وروسته ورځې په برابره توګه مهمې دي: د رايو د پاڼو او نورو حساسو موادو د شميرنې مرکزې ځانګې ته ليږدول، د ټولو موادو د کنټرول پروسه څو دا باور ي کړای شي چې اختلالات او نيمګړتياوې کشف شوې دي او دا چې رايې په جدي ډول کره او تصديق شوې دي.

همدارنګه د ټاکنو د شکايتونو کميسيون خورا مهم رول او نقش لري څو د ټاکنيزې پروسې په اړه په انفرادي شکايتونو باندې غور او قضاوت وکړي. هر څوک چې د ټاکنو په برخه کې د تخلف او تيريو کوم مدارک او شواهد لري نو خپل شکايتونه دې د ټاکنو په اړه د شکايتونو کميسيون ته ورسوي.

د افغانستان د ټاکنو موسسې د ولسې جرګې لپاره د ټاکنو د وروستني پړاو ته د رسيدو په يوه حساسه او مهمه مرحله کې دي څو د قانون سره سم خپلې ورسپارل شوې دندې ترسره کړي. د ټاکنو خپلواک کميسيون او د ټاکنو د شکايتونو کميسيون دواړه بايد په پوره آزادئ سره پرته له مداخلې څخه فعاليت ترسره کړي. د دغو ادارو خپلواکي د ټاکنيز بهير د بشپړتيا د اعتبار لپاره خورا زيات ارزښت لري.

Strategic Communication and Spokespersons Unit
United Nations Assistance Mission in Afghanistan (UNAMA)
Kabul, Afghanistan Tel: 079 000 6121; +39 083 124 6121

http://unama.unmissions.org Subscribe online to ensure you receive news from UNAMA.